۲۰۱۶/۰۶/۲۵

# د روژتي مهمه خاصه



په روژې کې د بیوزلو لاسنیوی، خلکوته خیر رسول، د درستي حوصلې نه کاراخیستل د روژتي مهمه خاصه ده

روژه په کال کې یومیاشت پر مسلمانانو فرض ده، چې د اسلام پنځو بناوو څخه دریمه بنا ده، په دغه مبارکه میاشت کې پرحضرت محمد (ص) قران عظیم الشان نازل شوی او قرآنکریم د ټول بشریت له پاره آسماني لارښود کتاب دی، چې په کې د امر او نهی احکام، پندونه عبرتونه، موعظې، حکمتونه او قصص ټول شامل دي. الله تعالی په سوره بقره کې فرمایلي دي: اې د ایمان خاوندانو په تاسو روژه فرض کړئ شوې ده لکه څنګه چه له تاسو مخکې قومونو(یهودو او نصارا او) باندی فرض کړئ شوې وه او دا د دې لپاره چې تاسې پرهیزګار اوسئ او د الله نه ووېرېږئ. څنګه چې روژه بختوره میاشت ده، نو مسلمانانو ته لازم ګنو، چې د روژې په میاشت کې د بیوزلو سره مرستې وکړي،ځکه روژه خلکوته د خیر رسولو او مرستو کولو میاشت ده، چې باید هر شتمن بې وسو سره خوراکي او غیر خوراکي توکومرستې وکړي. په دې میاشت کې دیني عالمان وایې یوه نیکي د نورو وختونوپه پرتله لسګونه برابر ډیر ثوابونه لري او دغه میاشت خلکوته د خیر رسولو او د ځان لپاره د ثواب ګټلو سترچانس دی.

په روژه کې نه یوازې خلک په مرستوکولو بسنه وکړي، بلکې هغه څه چې په دې مبارکه میاشت کې ډیر ثوابونه لري او یا هغه څه چې مسلمانانوته د اسلام له پلوه لازم شمیرل شوي ترسره کړي، نو اسلام موږ ته وایي؛ روژه د صبر او زغم میاشت ده. ځکه موږ مسلمانان باید دغه مبارکه میاشت کې د حوصلې نه کار واخلو. چاته ناوړه او بدې خبرې ونه کړو، د کنځلو او نورو ناروا خبرو څخه په کلکه توګه ځانونه وژغورو.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی: که چیرې څوک تاسو ته سختی او سپوری خبری کوي نو تاسو ورته ووائې چه زما روژه ده.

په روژه کې عبادت د نورو میاشتو په پرتله زیات ثوابونه لري، نو ناوړه چلند هم د نورو میاشتو پر تله زیاته ګناوې لري. یعنی ښه کارونه د نورو میاشتو په اندازه ثوابونه یې زیات وي او د بدو کارونو ترسره کول سړی د زیاتوګناهنو په سیند کې لاهو کوي.

اوس هر مسلمان ته لازم ده، چې د روژې په مبارکه میاشت کې د خدای تعالی (ج) عبادتونه د زړه له تل اداء کړي، له پوره ایمانداری او رښتونولی خلکو سره ښه چلند وکړي او له ناوړو او بدو خبرو څخه ځانونه وساتي، د حوصلې نه ډک ووسي او له بیوزلو سره د خپل وس او توان په اندازه مرستې وکړي. نو که چیرته موږ له پورتنیو ټکوڅخه ګټه پورته کړو، نو انشاء الله د پوره ایمان درلودونکو او د بشپړه روژتیانو په قطار کې به وشمیرل شو، ځکه بیوزلوته خیر رسول، له نورو خلکو سره ښه اونیک چلند ترسره کول، په دې میاشت کې له زغم او حوصلې څخه کار اخیستل او دالله تعالی عبادات د زړه له خلوصه اداء کول د یو ښه او با تقوا روژتي ځانګېرني دي، چې خاص د الله تعالی رضا په کې نغښتې وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ